# نوبهار

ډېر وختونه پخوا او په خورا تېرو زمانو کې، تر اوس څلور زره کاله دمخه آرين خلک تر آمو راواوښتل او د بخدي په ارته ورشو کې ځای ونيوی، مدنيت يې جوړ کی او د دې پادشاه يمه د يونګهوت زوی ته د اهوره مزده له خوا امر وسو، چې يوه "واره" يا "وهار" جوړ کې، دغه وهار چې په ابتداء کې يو واره باره وه، يعني يو کوچنی کوت و، وروسته د زردشتي آئين مرکز سو او د زردشت زوی (اوروتت نده) يې متولي و.

کله چې بودايي دين زموږ مملکت ته راورسېدی، دغه زردشتي د اورپرستۍ معبد په بودايي پرستشګاه تبديل سو، او بودائيانو هغه زړه آتشکده په بودايي بتکده تبديل کړه، او دغه يې (نو ويهاره) وباله، او دا نوم يوازي د بلخ د معبد له پاره نه و مخصوص، بلکې بودائيانو د کنيشکه کوشاني لوی پادشاه تر سيوري لاندې هر ځای دغسې معابد جوړ کړل، او هغه يې (نوبهار) وبلل.

واره، وهار، بهار له يوې ريښې څخه دي، مطلب يې لومړۍ پلا يو کوټګی يا کلاچه وه، وروسته معبد سو، او دا ريښه زموږ د اکثرو ښارو او ځايو په نامه کې ليدله کېږي، لکه ننګرهار، کندهار، چپرهار، نندهار او همدغه آريايي کلمه ده چې په هندي (هور) څني جوړ سو، لکه په لاهور، بمبور کې.

د بلخ نوبهار د بشر د خورا زاړه مدنيت او ثقافت قديم مرکز و، لومړی پلا آريايي خلک دلته متمدن او شهرنشين سول، ښار يې جوړ کی، د حيواناتو په پرورښت يې پيل وکی او د ايشيا په دغه مرکز کې يوه انساني مدنيت او ثقافت او د پادشاهۍ او جهاندارۍ اصولو وده وکړه.

کله چې يو زر او درې نيم سوه کاله پخوا عرب د خراسان مځکې ته راغلل، دوی دلته د (بهار) کلمه د بتخانې په معنٰی وارو‌ېدله، او خوارزمي د مفاتيح العلوم مؤلف ليکي چې بهار د بتانو پرستشګاه ته وايي او دا خبره البيروني هم په آثار الباقيه کې د بودائيانو په باب کې کښلې ده : "شمنان و آثارهم و بهارات اصنامهم ظاهرۍ فی تغور خراسان".

د چين زاير هيون – تسنګ چې په ۲۰ اپريل ٦۳۰ م – ۹ هـ په بلخ کې و، وايي چې د دې ځای(نوه ويهار) د بودايي دين لوی معبد دئ او د بيا اسلامي مؤرخان ټول داسې ليکي چې پر دې معبد باندې لوړې زرغونې جنډې رپېدې چې خلکو به له ترمذه څخه ليدلې، (د ياقوت معجم البلدان) او موږ ګورو چې دغه جګې جنډې په اوستا او نورو زردشتي کتابو کې هم د بلخ د نوبهاره سره ستايلې کېږي.

نظامي د دري ژبې مشهور شاعر د بلخ نوبهار داسې ستايي :

بهار دل افـــــــروز در بلخ بود
کزو سرخ ګل را دهان تلخ بود
پری پيــکرانی درو چون بهار
صـــنم خانهايی چو خرم بهار

د بلخ نوبهار خو په مؤرخانو او شاعرانو کې ډېر شهرت درلود او دا ځکه چې د برمکيانو مشهوره کورنۍ په اصل کې تر اسلام دمخه لا د دې معبد متوليان وو، او بيا چې دوی د عباسيانو وزارت ته په بغداد کې ورسېدل، نو خلکو د دوی احترام ځکه کاوه، چې دا د بلخ د نوبهار پخه کورنۍ وه، د عربو يوه شاعر د جعفر برمکي تر وژلو وروسته وايي چې د جعفر په مرګ نوبهار وران سو، او دمخه هم دا ځای په برمکيانو ودان و :

اوحش النوبهار من بعد جعفر
و لــــــقد کان بالـــبرامک یعمر

بېله دغه نوبهاره د خراسان او سند ځيني معبدونه هم په دغه نامه يادېدل، مثلاً په ۹۵ هـ د سند په پايتخت اورور (روهري) کي يوه د نوبهار بتخانه وه، چي په چچ نامه کې ذکر راغلی دئ. دغسي هم په سمرقند کي يو نوبهار و، چي د دغه ښار يوه دروازه يې په نامه مشهوره وه.

د بلخ په نوبهار کي په ۹ هـ کال د بودا يو غاښ او لګن او جارو پراته وه، چي دا ټوله په جواهرو ښايسته سوي وه، او شمالي ستوپه يې ۲۰۰ فټه لوړه وه او د مسعودي مړرخ په قول وربښمين زرغونه بيرغونه يې سل ګزه لوړ رپېدل، او يوه لوړه قبه او ۳۶۰ هجرې يې د متوليانو له پاره درلودې او له چينه ترکابله به خلک او شاهان زيارت ته ورتلل. دا نوبهار د اسلامي دورې تر ۴۰ هـ پوري لا هغسي ودان و، تر دغه کال وروسته عربي فاتح قيسل بن هيثم سلمی بلخ ونيوی، او دا معبد يې ونړاوه او متروک پاته سو.

په ۱۷۸ هـ کال چي فضل د يحيٰی برمکي زوی پر خراسان والي سو، ده وغوښتل چي د دغه معبد خرابې بالکل وراني کي او پر ځای يې ماجت جوړ کي. مګر دا ودانۍ داسي ټينګي وې چي نړول يې ګران و، نو ده يې يوه ګوښه ورانه کړه او پر ځای يې اسلامي ماجت جوړ کی. دا ماجت چنګيز خان ونړاوه، مګر وروسته بيرته مسلمانانو ودان کی، لکه چي د ابن بطوطه تر وخته لا هم د عالم اسلام يو لوی او مجلل مسجد و.

نوبهار په دري ادب کي ډېر استعمال سوی دئ، د حسن او ښايست سمبول دئ، کله چي شاعر د ښکلا او سمسورتيا انځورکاږي، نو هغه د (نوبهار) په کلمه کي سره نغاړي، دا ځکه چي (نوبهار) د ښکلاوو مرکز يو سمسور ځای و. مثلاً فرخي سيستاني محمد دمحمود زوی په يوه قصيده کي ستايي او دا قصيده داسي شروع کيږي :

مرحــــــبا ای بلخ بامی، هـــمره باد بهار
از در نوشــــاد رفــــــتی یا زباغ نوبهار
ای خـــوشا آن نوبهار خــــــرم نوشاد بلخ
خاصه اکنون کز در بلخ اندرون آمـد بهار
بلخ بس خوشست، لیکن بلیخانرا باد بلغ
مر مرا با شـــــــهرهای گوزگانانست کار
نوبهار بلخ را در چشم من حـشمت نماید
تا بهار گوزگانان پیش من بکــــشود بار

عنصري د غزنوي دربار بل شاعر په دې بيت کي (بهارخانه) او (نوبهار) داسي يادوي :

ترا که کـــرد بتا ! از "بهارخــــــانه" برون
جهان بروی تو بر من چو "نوبهار" که کرد؟

ارزقي هروي د "نوبهار" د صحرا ښايست او په بل بيت کي د "نوبهار" جنډۍ داسي راښيي :

باد بهار چونکه ازین پس بروز چــــند
صحرای "نوبهار" نماید چو قـــندهار
چون بر فراخت عید علامت بدست شب
نوروز در رســید، و علمهای "نوبهار"

عثمان مختاري غزنوي يوه مجنسه قصيده لري، مطلع يې د بهار مختلفي معناوي راښيي چي لومړی بيت يې دا دئ :

نګار من که ندارد چـــــنو نګار بهار
بهشت جان منست از رخ بهار نګار

د چيني او هندي او عربي مېرخانو روايات دا راښيي، چي شل قرنه د بلخ (نوبهار) د منځنۍ آسيا له پاره يو د ثقافت او ديانت او مدنيت مرکز و، زردشتي او بودايي او نور دينونه ټول په دغه معبدکي روزل سوي، آرټ او صنعت هم دلته ساتل سوی دئ.

کله چي په اسلامي دوره کي دغه معبد متروک سو، نو يې متوليان برمکيان مسلمانان سول، مګر دوی داسي په قديم ثقافت پرورده خلک وه، چي خپل ثقافتي او فرهنګي ميراثونه يې د بغداد عباسي دربار ته نقل کړل او د عباسي خلافت اداره يې پخپلو لاسو کي ونيوله، او په اسلامي تاريخ کې دوني شهرت وموند، چي د بلخي برمکيانو فکري او فرهنګي او خلقي مآثرو د عربو او عجمو د تاريخ ډېري پاڼې ډکي کړي دي او دا د نوبهار د ديني او فرهنګي مرکز اثرونه وه چي د عربو د خلافت مرکز بغداد ته يې نوی رونق وربخښلی و.

او هم دغه فکري ذخيرې او پانګي وې، چي په اسلامي عصرکي (خراساني اسلامي) فرهنګ ځني جوړ سوی دئ او يو منبع يې هم دغه (نوبهار) و[1].

---

[1] د نوبهار په نوم کتاب، ۴ مخ، دکتاب چاپولو موسسه، کابل.